ليکونکي :  ستيفن لند من (Stephen Landman)
منبع او دخپريدو نيټه  :  ګلوبال ريسرچ «24-02-2020».
ژباړونکی :  پوهندوی دوکتور سيد حسام «مل» .
-----------[ 22 ]-----------------------------------------------------------

# آيا په ا فغا نستا ن کي دامريکي د متحده اياﻻتو «تلپاتي جنګ» پای ته نژدي دي؟

## US "Forever War" in Afghanistan Near Ending?



دوراندي پلان کړشوی ميا شتو څخه د **بوش / چينی** رژيم د سپټامبر د مياشتی يولسم کا ل (2001) له بريد څخه ، څلوراوني وروسته په غير متخاصم ( غيرجنګيا لی ) ا فغا نستا ن باندي  بريد اوتيري وکړ .

ا فغا نستا ن د سپټامبر په يولسمه پرامريکا با ندي حمله نه وه کړي . **طا لبا ن  اوبن ﻻدن** دهغه څه سره چي په هغه ورځ کی رامينځته شوتړاو نه درلوداونه يی غوښتل چي په بدنامی کی ژوندوکړی يا داچي ځان بدنام کړي اودنورو هيوادونوپه وړاندي دامريکی دنه ختميدوکی جنګ جګړولپاره ددوزخ دروازي پرانيزی يعنی هغه هيوادونه چي هغوی هيڅوک ته ګوابن نه دی کړي .دا دامريکی هغه جګړه چي په هغه کی په مليا ردونو ډالرپه هد رﻻړ ، ډله ايز وژنی ترسره کړ،ويجاړنی رامينځته کړدقانون حاکميت يی دتاريخ خنځلی  ته ور وغورځول

دغه جګړه کوم چې له «اتلس » کالو څخه زیات موده کیږی دا مریکی نا توصیف کړي اوداشغا ل هغه جګړه دی چې لا تراوسه دهغه پای نه دی معلوم .

امریکي ا فغا نستا ن ته د پا تی کید و لپا ره راغلي ، ا مریکي د سپامبر میا شتی دیولسمی نیټی څخه وروسته د جنګ جګړو په تولو تیا ترونو کی ورته لوبی ترسره کړي په نویوم ( 90 ) لسیزو پرمخکینی یوګوسلاویا با ند ي تیري وکړ، هیوا د ونه اوملتونه یود بل پسی ونړول په مستقیم بڼی اویا په غیر مستقیم بڼی سره دخپلو ولوید یځ پلو ګوډاګی او لاس پوڅو پواسطه سره هیوادونه تر خپل اشغال تصرف اوولکي لاندی راوړل .

پرا فغا نستا ن باندي مقد ما تی یرغل او جګړه ددی هیواد د طبعی زیرمو دلاس رسی په هد ف ترسره کړ یعنی دهغه زیرمی اویا د مینرالونو تصرف چی له هر پلوه اقتصادی ارزښت لری ، کوم چي دا مینرالونه عبارت دی له :

**کرومت ، دسکرو ډبري ، کبالت ، مس ، سره زر ، داوسپنی تیګه** ، په لویه مقدار **لیتیوم** چی یوله ډیر با ارزښته عنصر ګڼل کیږي اونور نادر اوکمیاب فلزات اوله دغو مینرالونه څخه سربیره په دی هیواد کي د طبعی ګا ز ، نفت زیرمی اوهم **قیمتی اوغیر قیمتی ډبری ما لګه ، ګوګړ ، تالک ، زنک** ، اوداسی نور طبعی زیرمی دی چی لاتراوسه ورته لاس نه دی ور وړل شوی .

د پورتنیو ذکر شوی مینرالونو معد نونه او زیرمی لا تراوسه په طبعی بڼی په دی هیواد کی وجود لری چی دهغه اټکل شوی ارزش تر تریلون ډالرو پوری شوی کوم چی امریکایی سیاستوالو په هیڅ بڼی سره دا نیت نه لری چي دغو مینرالونو ته دلاس رسی څخه تر شا شی یا صرف نظر وکړي بلکه هغوی غواړی چی امریکایی شرکتونه باید له دغو مینرالونو څخه ګټه تر لاسه کړي .

همدارنګه واشنګتن غواړی چی دافغانستان په سرتاسر کی د نفت اودګا زو دلولی کرښي جوړ کړي اودا فغا نستا ن خاوره د **روسی** اود **چین** د محا صری کولو لپا ره د خپل پلان د یوی برخي په بڼه وکاروی اوهم دهیروینو د ترلاسه کولو لپا ره په افغانستان کی دتریاکو پر تولید اوراکړي ورکړي با ندي تسلط ولری .

دتریاکو ا قتصاد د طا لبا نو د حکومت لخوا د (۱۱/۹) پیښی څخه لا د مخه له مینځه وړل شوی وه ، متحده ایالات دامریکایی بانکونو ته دهغو دپول شویی لپاره دتحفی دورکولو په توګه د تریاکو بیا له سره کرهڼه اوتولید ته زمینه را برابره کړ اودبلی خوا څخه لکه چی ټولو ته معلوم دی (سی آی ای) د مخدره موادو په قاچا ق ، راکړی ورکړی ا و یا تجارت با ندی ډیر زیا ت تکیه لری اوداځکه چی د تریا کو له راکړی ورکړي څخه ډیر زیات ګټی تر لاسه کوی او په دی برخه کی زیا ت مها رت او تجربی لری.

امریکي هغه هیواد دی چي په وار وار سره تېولو ته ښودلی یا ثابته کړی کوم چی دچا باور نه کیږی چی دغه هواد دتېولو نړیوالو منل شوی قوانینو ، مقرراتو ، تړونونو ، کنوانسینونو (میثاقونو ) څخه تل سرغړونی کړی او هم دنورو هیوادونو څخه له دوه اړخیزو توافقنامی څخه په یو اړخیزه بڼی سره پښی راسپکی کړی دي یا راوتلی دي .

متحده ایالات هرهغه تړون اویا موافقتنا می چي د نورو هیوادونوسره کړي دهغه محتویات ته پام نه دی اړولي یاداچي هغه تړون دکاغذ پرمخ پاتي شوی اودخپل غوښتنی سره چي هروخت غوښتی دی له هغه تړون څخه تر شا شوی اویا هغه تړون فسخ کړی دي.

داګست میا شت کا ل(2019) کی دامریکي د **برون** په پوهنتون کی دهغه پوهنتون دواټسون (watson ) دبین المللی انستیتوت له خوا یوراپورپه لاندی سرلیک سره نشر ته وسپارل شو

د (سی آی ای ) - «پوځ» د بشری حقونو لپا ره ګواښ اوپه ا فغا نستا ن کي د سولی درامینځته کید و په وړاندي خنډ دی او وویل :

د (سی آی ای ) فعا لین هیڅ نیت نه لری چي له ا فغا نستا ن څخه ووځی ، دغه ملیشي کوم چي اوس په هغه هیواد کی کنترولی دندی لري دامریکي دا مپریالیست دولت د ګټو د ترلاسه کولو لپاره خد مت کوي .

د دوی موجود یت اوبیا په ا فغا نستا ن کي د(سی آی ای) حضوردترهګری سره دمبارزی د پلمي په بڼه کوم چي د متحده ایالاتو دګټي څخه ملا تړ کوی نو په ا فغا نستا ن کي د سولي اود ټیکا وو را وستنه یا پلی کول نا شونی دي .

## د(سی اي ای) افغا ن ملیشی د سولي د بیا رغوني مخه نیسی!

آیا د پټتا ګون ځواکونو دخپل احمقا نه ادعا دبا ور په لرلو سره دلته په ا فغا نستا ن کی پا تی کیږي یا داچی له ا فغا نستا ن څخه وځی اما لمړي یعنی دامریکی دپا تی کید و خبره واقعی او یقینی دي .

دلانګی (دورجینیا د شمال ولوید یځ دمرکزی اطلاعاتو داجنسی پوری اړین غړی ) شبهه نظا میا نو ته ورته یا برابر کوم چی په کال (1980) د (سی آی ای ) پواسطه سره افغا نی مجاهید ین جنګیا لی د شوروی اتحاد دا فغا نستا ن داشغا ل په وخت کی دهغه هیواد دنظامی ځواکونو په مقا بل کی دجنګ جګړی لپا ره روزلی وه ، نن طا لبا نو دی چي د ا مریکی دغیر قا نونی جګړی اودا فغا نستا ن د اشغا لګرو په مقا بل کي جنګیږي .

دوی یعنی طا لبا ن غواړي چی امریکایی اشغالګر تیریکونکي اوهغه متحدین له خپل خاوری څخه وباسي اما ترهغه وخته پوری چي په دی هیواد کي د(سی آی ای) خصوصی یا ملیشوی پوځ شتون ولری نودامریکا یا نوایستل له افغانستان څخه غیرمحتمل اویا ناشونی ښکا ري .هغوی یعنی دغه ځانګړي د(سی آی ای) پوځ دعامه خلکو له نظارت اودحساب

ورکولو څخه محا فظت یا سا تنه کیږي یا په بل عبا رت دغه ځواکونه د کا مل مصونیت څخه برخوردارګرځول شوی دي اوپه کابل کي پرځای کیښینیول شوی ګوډاګي رژیم ددغه (سی آی اي) د ځا نګړي پوځ د کړنی اودهغو د پټو اهدافو څخه بی خبر اویا په بی خبری کي سا تل شوي دي .

د (سی آی ای ) سازما ن له هیواد څخه د با ندي د نړی په سراسر کي په غیر قانونی توګه خپل د ندی نقض کوی یعنی چی له ټولو منل شو بین المللی قوانیونو څخه سرغړونه کوي .

یواځی په نوم سره یو ډول اوربند د**ترامپ** رژیم اود **طا لبا نو** لخوا هوکړه شوی ، آیا هغه څه چي مخکي نا شونی وه اوهیڅکله کا ر نه کا وه ، آیا اوس سمدلاسه امکان لری ؟

نیویارک ټایم ادعا کړ ه چی له افغانستان څخه دامریکایی ځواکونوایستلو لپاره د تړون لاس لیک کولو په لور لومړی ګام دی ؟

دا څومره امکان لري کله چي حتی دوی ا فغا نستا ن هم پریږدی او بیا له سره بیرته ونګرځی کوم چي د لته د (سی آی ای) فعا لین او دلانګلی نیمه پوځی (ملیشی) اردو پخپل ځای کی با قی پا تی دي چي داپخپله دامریکی دمتحده ایالاتوددوامداراشغال یونوی شکل دي دنیویارک ټایم په قول ، که چیری احیاناً دایوه نیمګړی یا قسمی اوه ورځنی اوربند باقي پاتی شي ، نوآیا دواړه خواووی دفبروی په (29) نیټه کي دموافقی دلاس لیک کولو لپاره سره به ووینی ؟ اوله افغا نستا ن څخه دامریکا یي سرتیرو دا یستلو لپا ره زمان به وټاکي او کړي هوکړه به لاس لیک کړي ؟

که چیری دا را پیښ هم شی یعنی چي دواړه لوری سره ووینی او موافقه هم لاس لیک کړي نو پر هغه کاغذ باندي چي ددی تړون محتویا ت لیکل شوی دی څه ارزښت به ولری اویا داچي بی له کوم اجراتو څخه هغه محتویات به دهمغه کاغذ په مخکي باقي پا تي نشي ؟

اودا ځکه چي هرهغه څه چی امریکا یا نو عامه خلکو ته څه وایي اویا تراوسه څه ویلی دي دسولی اود ټیکا وو دبرقراری اویا راوستنه یواځی خوب اوخیال دی او ا مریکی دخپل دوامدار نه ختمید ونکي جګړی دپیل لپاره د جګړو اود جنګونو په هر تیا تر کی ورته لوبی ترسره کړي دي یعنی دا بلکل واقیعت دی چی امریکایان دروغ وایي اونه غواړي چي سوله او ټیکا وو را مینځته شي .

لکه د**یودینګ** (فرینی) په څیر دخوړي حقیقت ویل په ټولو هیوادونو کي ریښتیا ویل دي نو هغه داد ی چی متحده ایالات دسپټامبر له (یولسم ) نیټی څخه وروسته په بی ساری ډول د بی پا یا نو جګړو د پیل لپاره هڅی اواند ترسره کړی اوپر یرغل وړلی هیواد کی نارامی اړی دوړي ، ویجاړني او ګډ وډی رامینځته کړی کوم چی لاتراوسه همدغه ډول کارترسره

کوی او دجګړو د ختمیدو لپا ره هیح د حل کوم لاره نه وړاندي کوي.
امریکا یا نو هیڅکله مذاکره نه کوي هغوی بی له قید وشرط هرهغه څه شی غواړي چي دهغوي منافع تامین کړي که چیری څه هم دواشنګټن کوم لوړ پوړی مقام په کوم مورد کی دکوم هیواد سره تړون هم کړی وی نو چیری چي خپل ګټه په تاوان کي لید لی نو لاس لیک کړ شوی تړون تر پښو لاندی کړي دی کوم چي په تاریخ کی دا ډول پیښی په بار بار سره دامریکا یا نو له خوا ترسره شوی دي .
دامریکي له خوا دنړیوال قانون ترپښو لاندی کول اودنړیوال تعهد اتو او دتړونونو څخه دوتلو د مسلی سربیره د « اوباما » دامرپواسطه سره له عراق څخه په کا ل (2011) کی دامریکایی ځواکونو دوتلو جریان یا سلسله چند ا ن دوام ونکړ .
دمتحده ایالاتوله خوا دعراق اشغال د (2014) کال په مینځ کي بیا له سره پیل شو کوم چي تر نن ورځی پوری دوام لري اوپه زرګونو ا مریکا یی سرتیری چي په عراق کي ستراتیژیکی سیمی تر خپل کنترول لاندی لری ا یا دا به ممکن وی چی ا مریکا یا ن له عراق څخه ووځی چی البته نه وځی که څه هم دعراق مقاما ت غواړی چی امریکا یا ن له عراق څخه ووځی .
نو آیا ا فغا نستا ن به ددی آمر څخه متفاوت اومستثنی وي ؟ کوم چی مستثنی نه دي ، آیا متحده ایالات به په دي موافقه وکړي چي له افغا نستا ن څخه پښی سپکی کړي او ووځی ؟ اوبیا له سره د ا فغا نستا ن د بیا تسخیر لپا ره را وا نوړي یا بیرته را ونګرځي ؟
ایا دا به مسله وي چی د (سی آی ای) دعملیاتی ځانګړی فعالین یا ملیشی چی دافغانستان سیمی ترکنترول لاندی لری هغه سیمی به خوشی کړی اوپنتاګون به دی ته حاضر شی چي خپل ځواکونه له افغانستان څخه را وغواړی یا یی را اوبا سي ؟
آیا دسولي خبری به کله توپیر وکړی ؟ لکه هغسی چي دا سرایل اود فلسطین تر مینځ د سولی احتما لی مذاکرات په واروارسره د سولی د را مینځته کید و کوم پا یلی نه درلود دهغوی هر مذاکره بی دکوم رغنده پایلی د ترلاسه کید و بی نتیجه ترسره شوی نو دلته په ا فغا نستا ن کی دهمغه په څیر د سولی مذاکرات به کومه نتیجه ورکړی ؟
ایا طالبان کولی شی چي په کابل کي دمتحده ایالاتو له خوا نصب کړ شوی ګوډاګي رژیم سره همکاری ولري ؟ داځکه چي دا دولت د طا لبا نو له نظره مشروعیت نه لری.
د متحده ایالاتو اود طا لبا نو مخکینی خبری یا مذاکرات ناکامی شوی ځکه چي واشنګټن دوی کمزوره کړ .
که چیری د پنتا ګون ځواکونه دتیر په څیر له ا فغا نستا ن څخه ووځی نو امکان لري چی هغوي دیو لند مهال مودي لپا ره دیو د ښمن په توګه په یو کوم بل ځای کي مستقر یا

ځاي پر ځاي کړي .
هغه څه چي طا لبا ن غوښتنه کوي دوی به ترلاسه نکړي یعنی چی دامریکا یا نو او دبا ند نیو ځواکونو بشپړ وتل له افغا نستا ن څخه په دی اطمینان چی دهغو دوتلو جریان به په تلپا تي بڼه دوام پیداکړي ناشونی ښکاري .
په اوس حالت کي (14000) امریکایي سرتیری اوپه حدود د(1700) دنورو هیوادونو سرتیری په افغانستان کي ځای پر ځای شوی دي اوهم په نامعلوم شمیر سره د(سی آی ای) شبهه نظا میا ن هم دافغانستان په اشغال کی ونډه لری او په هیواد کي موجود دی .
له بلی خوا څخه اوس طا لبا نو هم دافغانستان زیاتي برخي پخبل تصرف او کنترول کي لري نوهرهغه څه چي دامریکا یا نو سره د تړون موافقه وشي په بهترین حا لت کي به ستونزمن وي .
طالبانو موافقه کړی چي ترخپل ولکی لاندی قلمرو کی هغو ته کوم چی دښمن ویل کیږی ځای ورنکړ او دخپل جنګیالیو پواسطه دښمن له هغو ځایونو و څخه لیری وساتي اوبوائی دخپل ځان ددفاع او محافظت لپاره ځوابیه برید تر سره کړي کوم چی دا یو ډول احتما لی اوربند دی کوم چی دکوم دلیل په وجهه پا ی ته به ورسیږي .
پنتاګون په دي بیان سره چی ددوی عملیاتونه په ا فغا نستا ن کی دداعش اود القاعدی په وړاندي به دوام وکړي مسله بل ډول دي اوهغه دا چي متحده ایالات له همدغو جها دیا نو ( داعش او القاعده ) څخه ملاتړ کوی نه داچی دهغوسره مبارزه کوی.
هغوی ټول (داعش او القاعده ) همد لته په ا فغا نستا ن کی دي اوداځکه پنتاګون اود (سی آی ای) سازمان دوی دلته دا فغا نستا ن په د ننه کی ځای پرځا ی کړی دی اوددوی شتون ځکه حقیقت لری چي هغوی هر وخت هرچیری په ا فغا نستا ن کي راښکا ره کیږي .
د متحده ایالاتو د طا لبا نو سره د موافقی چا نس دامریکایی سرتیرو دایستلو اودسولی او تیکاوو برقراری په دی هیواد کي په ډیرو بهترین حا لاتو کي یو څه نري اوباریک اوپه بدترین حالاتو کی غولونکی اوتیروتنه دي .
ورته سناریو دجنګ جګړي په ټولو کلونو کی همدا ډول انګیرل شوی کوم چي هغوي (امریکیان ) بی پایه په غصه شوي ځکه چي واشنګټن کی ددوه حزبی اړخ سخت دریزو همدغه غوښتنی وه .
یعنی د نظا می ، صنعتی ، ا منیتی اود عمومی ډله ایزو رسنیو غوښتنی همدغه ورته غوښتنی دي .
له هغه وخته چي د پنتا ګون قوتونه مخکی د جون میا شت کا ل (1950) چي په شما لی کوریا باندی یعنی په داسی یو هیواد کی چی بل کوم یو هیواد نه وه ګواښلی ورباندی حمله

کوی نو متحده ایالات له همغه مها ل ځخه تر اوسه په مستقیم ډول اویا په غیر مستقیم ډول د نیا بتی جګړی په مخکی وړلو سره په جنګ جګړه راښکیل یو هیواد دي .
د یو حزبی دولت دواړه ښی اړخ شاخونه یاځانګي (**جمهوریخواه او دیموکرات**) په نړی کي - **سوله – ثبات – عدالت – انصا ف** اود **قانون حا کمیت** نه غواړي اوله یوسره ردوی نو له همدی امله د لته دهیواد په د ننه اوبه بهر کي دا نسا نیت په وړاندی نه ختمیدونکي جنګونه دجوړ کړ شوی یا داختراعی کړی شوی دښمنانو په وړاندی خپل قهر او غصه په ډاګه کوي .
لکه چی ټولو ته څرګند دی هغه داچي ددوهم نړیوال جګړی له ختم څخه لاتراوسه هیڅ یو واقعببینا نه دریځ ددوی له خوا نه تر سترګو کیږي .

## دلیکونکی په اړه څو کرښی :

جا یزې ګټونکی لیکوال ستیفن لینډمین په شیکا ګو کې ژوند کوي. هغه کولی شي په lendmanstephen@sbcglobal.net کې تر لاسه شي. هغه د نړیوال کید و په اړه د څیړنې مرکز ریسرچ ایسوسی ایټ دی.

د مد یر او مرسته کونکي په توګه د هغه نوی کتاب "په اوکراین کې د فلش پوټینټ: د متحده آیالاتو ډرای فار هیجمنیت ریسک WW III" نومیږي.

http://www.claritypress.com/LendmanIII.html

____________________ **په درنا وی «2020-02-25»**